لوړو زده کړو وزارت
کندهار پوهنتون
د ښوونې او روزنې پوهنځی
**د تاریخ څانګه**

# د افغانستان معاصر سیاسي تاریخ

Download from:aghalibrary.cm

**وړاندې کوونکی: محمد شعیب وحدت**

# بسم الله الرحمن الرحیم

- د کورس پېژندنه
- د تاریخ په اړه څه معلومات لرئ؟
- ایا تاریخ علم دئ؟

# علم څه دئ؟

**د علم (Knowledge) یو جامع تعریف:**

"په یوې **ځانګړي موضوع** د پوهېدني په موخه، د **منظمو څېړنيزو میتودونو** او نظري تفکر په مرسته، د دلایلو منطقي ارزوني ته علم یا پوهنه وایي.

یو علمي کار باید:

- ✓په خپل ذات کې یو جسورانه نوښتي تفکر وي،
- ✓د مدارکو یو غوره تنظیم وي
- ✓ او له ځانه سره د نظریو او فرضیو د رد یا تأیید لپاره دلایل ولري".

(ګیدنز. ۱۳۸۷؛۴۴)

# د تاریخ د علم تعریفونه

- تاریخ د مهال او ځای  په قید سره د تېر وخت او تېرو کړنو بیان ته ویل کیږي.

- تاریخ هغه علم دئ چی د مهال اوځای  په قید کي د بشري تولني تکاملي تګلوری تشریح کوي.

- د تاریخ علم تېري پیښي بیانوي، اوسنی حالت څیړي او د راتلونکي په اړه پیش بیني کوي.

# د تاریخ د علم تعریفونه ۲

- تاریخ د مهمو پیښو د نېټو او د مهمو افرادو د کارنامو ثبتول او بیانول دي.

- "تاریخ په پراخه مانا د تجربو، علمونو، تحولاتو، بدلونونو، ډلو او ژوندیو ټولنو د احوالو په باره کې اطلاعات دي". امریکای تاریخپوه، مارټ

# د تاریخ د علم تعریفونه ۲

- "په پرون کي د مادي (اقتصادي)، شعوري (ذهني-عقلي) اوسلیقوي (فرهنګي-کلتوري) تفاوتونو او اختلافونو څخه د راپیدا سویو حوادثو علمي تحلیل او بیان ته تاریخ وایي." محمد ابراهیم عطایي.

- ولي فکر، اقتصاد او کلتور مهم دي؟
- تاریخي تفاوت څه دئ؟
- تاریخي تضاد څه دئ؟
- د علمي تحلیل اهمیت څه دئ؟

# د تاریخ د علم تعریفونه ۳

**رابین جورج کالینگووډ:**

**تاریخ علم دئ؟**

"د تاریخ علم، لکه ساینسي علوم یا ټولنپوهنه، د تفکر یوه ځانګړې بڼه ده؛ یو ډول څېړنه ده."

تاریخ علم دی ځکه،

"علم، د تفکریوه بڼه ده چې دهغې په وسیله او چوکاټ کې ځانګړي پوښتنې مطرح اود هغوی جوابولو لپاره هڅه کیږي."

# د تاریخ د علم تعریفونه ۴

د کالینگووډ ادامه:

نو تاریخ داسي تعریفوو:

تاریخ په شیانو د پوهیدو علم دئ او په تاریخپوهنه کي شیان کړني (عملونه) دي. تاریخ د کړنو علم دئ او د انسانانو د کړنو په تړاو پوښتنو ته جوابونه پیدا کوي.

# د تاریخ د علم تعریفونه ۵

**کالینګووډ ادامه...**

له بلي خوا تاریخ دانسانانو د ځان‌پیژندني علم دئ. ځان‌پېژندنه، د انسان د مقام پیژندنه ده اولاندي پوښتنو ته ځوابونه ورکوي:

انسانیت څه دئ؟

هغه انسان چه ته يې، څوک دئ؟

هغه انسان چه ته يې او بل هیڅوک نه دئ، څوک دئ؟

# د تاریخ د علم تعریفونه ٦

؟ د کالینگووډ ادامه...
په بل عبارت، ځانپیژندنه دا پوښتنه ځوابوي چي څه کولای سو؟ او لکه څنګه چي هیڅوک نه پوهیږي چي څه، اما کوښښ کولای سو.
د دي لپاره چي معلومه کړو انسان څه کولای سي، باید معلومه کړو چي انسان څه کړي دي؟
نو د تاریخ ارزښت دا دئ چي موږ پوهوي چي **انسان څه کړي دي** او په همدې ترتیب **انسان څه شی** او **څوک دئ**؟

# د تاریخ د علم تعریفونه ۷

"تاریخ د بشري روح د ځانپوهېدني (خود آگاهۍ) او آزادۍ، تکاملي (بشپړتیایي) تګلورۍ دئ".
المانی فیلسوف، فریدریک ویلهلم هیګل.

**د دغه تعریف لنډه تشریح:**

د بشر تاریخ د هغه د فکر تاریخ دئ ځکه چي انساني کړني د هغه له ارادې څخه او د هغه اراده د هغه له فکر څخه منشا اخلي. نو نتیجه اخلو چي د انسان د کړنو په اړه پوهه، د هغه د فکر د بشپړتیایي تګلوري په باره کي پوهه ده.

# د تاریخ فلسفه

**فلسفه څه ده؟**

فلسفه د نړۍ د لویو مسئلو په اړه د (ولې؟) پوښتنو ته جواب مومي.

**فلسفه تل د شیانو پر ماهیت او ذات بحث کوي.**

اما دلته فلسفه د <u>**حکمت** په مانا کارېږي</u>

**د تاریخ فلسفه څه ده؟**

**د تاریخ په فلسفه دوه ډوله مطالعې کیږي:**

1) **د تاریخ انتقادي فلسفه. کومه څه رښتیا او عیني دي؟**
2) **د تاریخ نظري فلسفه.**

# د تاریخ فلسفه ۲

- **د تاریخ په فلسفه کې مهمې مطرح پوښتنې:**
  - ✓ ایا تاریخ تګلوری لري؟
  - ✓ ایا تاریخي پېښې د یوه له مخکې کښل سوې نقشې او قوانیو پر اساس رامنځته کېږي؟
  - ✓ ایا تاریخي پېښې ټولې د انسان په لاس کې دي؟ او که انسان غوښتي وای، د هغوی تګلوری یې بدلولای سوای؟
  - ✓ د تاریخ غایت او نهایي هدف څه دئ؟
  - ✓ انسان له کومه راغلی او چیري ځي؟
  - ✓ د انساني حرکت او الهي ارادې ترمنځ څه رابطه ده؟

# د تاريخ فلسفه ۳

د تاريخ فلسفي بحث ادامه...

- ✓خطي حرکت
- ✓دوراني حرکت

- ابن خلدون ۱۴۰٦-۱۳۳۲ زیږدیز. دوراني نظريه
- نايف الرضان ۱۹۵۹- زیږدیز. د تاريخ تداوم نظريه
- هيګل ۱۷۷۰- ۱۸۳۱ زیږدیز. خطي، تکاملي نظريه

# د تاریخ فلسفه ۴

**د تاریخ د فلسفې تعریف:**

"د تاریخ په اوږدو کې د یوې ټولنې د تحولاتو او تطوراتو (بدلونونو) د پړاوونو څېړلو ته د تاریخ د فلسفې علم وايي. د تاریخ فلسفه پر دغو تحولاتو او تطوراتو باندي د حاکمو قوانینو څېړنه هم کوي".

مطهري

د تاریخ فیلسوان وايي چې پرمختګ اوترقي د بشري ټولنو لپاره یوه طبیعي چاره ده. ټولنه د تل لپاره د بدلونونو او تحول په حالت کې ده او په تدریج سره له یوې مرحلې څخه و بلې مرحلې ته د تمدن او تعالي (لوړوالي/پرمختیا) پر لور تګ کوي.